دا لکچر د افغانستان له پاره د سولې او دیموکراسی د پالټاکي خوني د برخه والو د غوښتنې پر بنسټ چې هېوادپال روڼ اندي دي او دامریکا، اسیا او اروپا څخه د دې خوني سره په دوامداره توګه اړیکې ټینګوي، د وتلي او تجربه لرونکي دیپلومات محترم امیرمحمد ګران له خوا په دې وروستیو کې ترتیب او وړاندې شوی دی.

******************

امیرمحمد ګران ۲۰۱۲/۰۸/۲۷

# دهند په نیمه وچه کې د پاکستان نظریه او سیمه ایزه ستراتیژي!

لمړی برخه

مخکې تردې چې د هند نیمه وچه د مذهبي ایدیالوژۍ پر بنسټ وویشل شي او د پاکستان د نظریې نوښت تر څېړنې لاندې ونیول شي، اجازه راکړئ چې د هند د «طلایي مرغۍ» په پراخه سیمه کې د افغانانو او د هند د خلکو هغو استعماري ضد مبارزو ته چې په تیرو پیړیو کې یې سرته رسولي یو ځغلند نظر واچوم.

تاریخي شالید Historical Background د هند په نیمه وچه کې د افغانانو او هندیانو له خوا ښکیلاکي ضد مبارزي، سر ښندنې او اتلولۍ د افغانانو او د دغې سیمې د ګډ تاریخ ځلانده او ویاړمن څپرکې تشکیلوي. افغانستان او هند د بشري تمدن د لرغونو او پخوانیو بنسټونو (مرکزونو) څخه شمیرل کیږي او د دواړو هېوادونو خلک له پخوا زماني څخه خپل منځي ډول ډول ټینګې او نه شلیدونکې اړیکې لرلې چې همدا اوس هم ادامه لري. اما د تاریخ په اوږدو کې له سیاسي پلوه دغه اړیکې د یو لړ جګو او ټیټو څخه تیرې شوي. له میلاد ي پیړۍ څخه د مخه په دویمه زریزه کې اریایان له افغانستان څخه هند ته وکوچیدل او هلته یې د ویدي Vedas تمدن ته دوام ورکړ، وروسته بیا د موریایانو تر سیاسي اغیزې لاندې، بودایي دیانت افغانستان ته لار پیدا کړه.

له پیړیو وروسته بیا مسلمانانو هغه وخت چې ایران فتح کړد هند په نیمه وچه کې یې خپلو مداخلو او جګړو ته ادامه ورکړه. د حضرت عمر(رض) په زمانه کې هم د دغې سیمې د لاندې کولو ناکامه کوښښ وشو. همدارنګه د حضرت علی (رض) او امیر معاویه په وختونو کې د اسلام د دین د قبلولو له پاره جنګ، جګړې او په دغه سیمه کې د واکمن کیدو هڅې رواني وې. په پای کې د اموي خلیفه ولید په دوره کې د سیند د دیبل په بندر کې د مسلمانانو ۸ کشتۍ چې د سریلانکا څخه عربو ته په سفر رواني وې چور او چپاول شوې. عربو د سیند له راجه څخه چې داهیر نودیده نومیده وغوښتل چې غلو ته سزا ورکړي، ولې راجه معذرت وغوښت او له سزا ورکولو څخه یې ډډه وکړه. په پای کې محمد بن قاسم د پوځ په مشرۍ دغې سیمې ته راغی، محمد بن قاسم د سیند راجه داهیر ته ماتې ورکړه او د مسلمانانو حکومت یې تشکیل کړ. همدارنګه د افغانستان دولتونو لکه کوشانیانو او یفتلیانو د لمړی میلادي پیړۍ څخه تر شپږمې میلادي پیړۍ په هند کې خپل اغیز درلود. د افغانانو دریم ځل اغیز په هند کې چې ددغه هېواد د تاریخ یوه ځلانده او ارزښتناکه دوره بلل کیږي د غزنویانو، غوریانو، قطبیه، خلجیانو، سوریانو(سوري شیرشا) سدوزیانو دولتونه وو چې په هند کې یې اسلامي تمدن او فرهنګ ته پراختیا ورکړه.

د ۱۶ مې څخه تر۱۸ مې پیړۍ بابري او مغلي دولتونو د ظهیرالدین محمد په مشرۍ په هند کې د افغاني دولتونو څخه واکمني تر لاسه کړه. د هند په نیمه وچه کې د مغلي امپراطورۍ په واکمن کیدو سره ، اروپایي ښکیلاک غوښتونکو هم دغې سیمې ته چې دوي « طلایي مرغۍ » بلله خپلې لاسوهنې پیل کړې او ایسټ انډین کمپنۍ دجلال الدین اکبر مغلي پاچا په وخت کې په کلکته کې خپل فعالیتونه وغزول. د یادولو وړ ده چې د اروپایانو د راتګ څخه مخکې د هند په نیمه وچه کې کورنیو جګړو د مغلو امپراطورۍ ټوټې ټوټې کړه او د هند خاوره یې په ګڼو اداري واحدونو وویشله. ددې ویش پایله دا شوه چې پنجاب، ملتان او کشمیر د افغانستان په واکمنۍ کې راغلل، راجپوتانه د راجپوت شهزادګانو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

اداره کاوه، په بنګال نواب علي وردي واک چلاوه، د هند منځنۍ برخه د مرهټیانو په واک کې وه او جنوبي هند د حیدر اباد دکن په واکمنۍ کې راغلل.

اروپايي ښکیلاک ګرو له دغې جګړه ایزي، نا امنه وضعې څخه ګټه پورته کړه او د هند په پراخ هېواد کې یې د خپل اغیزمن رول د پراختیا له پاره خپلو استعماري هڅو ته په درو مرحلو کې ادامه ورکړه.

په اوله مرحله کې د دوي هلې ځلې تجارتي اړیکو ته متوجه وي، په دویمه مرحله کې د خپل تجارت او سیاسي نفوذ او اغیزمن کار له پاره د سیمې له واکمنانو- راجه ګانو سره په جنګ جګړو لاس پورې کړاو په دریمه مرحله کې یې سوداګرې د خپلو فتوحاتو سره یو ځاي کړه چې په دې برخه کې د ډیرو برياوو د لاسته راتلو سبب شو.

د هند نیمې وچې ته د اروپایانو راتګ:

د پرتګال واسکو ډیګاما هغه لمړنی اروپايي سیاح وو چې د ۱۴۹۸ ع کال د مې د میاشتې په ۲۷ مه د سمندر له لارې د کالي کټ بندرګاه ته ورسید. اما په وروستیو کلونو کې بیا انګریزان په هند د حکومت کولو په نیت د بحر د لارې بریالي شول. په ۱۵۰۲ م کال کې واسکو ډیګاما په چین کې فابریکې جوړې کړې او په ۱۵۰۵ ع کال کې پرتګالیانو بمبئي (چې اوس په ممبايي شهرت لري)، دیو، ګوا، لنکا او ځینې نورې ساحلي سیمې په خپل واک کې راوستلې او د هغو د اداره کولو له پاره یې ډې المیدا لمړنی وایسراي مقرر کړ.

په ۱۶۰۲ ع کال کې هالندیان United East India Co تاسیس کړه او په مالیزیا او اندونیزیا کې یې خپله سوداګري پیل کړه. برسیره په هالند، انګلیس، ډانمارک، اطریش او سویډن هم ایست انډیا کمپنۍ جوړې کړې، لیکن په خپلو استعماري هلو ځلو کې پاتې راغلل او یوازې د انګریزانو واکمنې په سیمه کې تر یوې مودې ټینګه شوه. تاریخ ځرګند دی، د هغوي په اند هغه امپراطوري چې لمر په کې نه ډوبیده، د افغانانو د اتلولیو او سرښندنو له برکته د بیساري لړزان سره مخ شوه.

په ۱۶۰۰ زیږدیز کال کې د انګلیستان واکمنې ملیکې الیزابیتې ایست انډیا کمپنۍ ته د هندوستان سره د تجارت کولو اجازه ورکړه.

په ۱۶۰۸ زیږدیز کال کې د برتانیا د سمندري ځواکونو یو ماښو چې تورن هاکنز نومیده او د یوه سمندري ټیم لارښوونه یې کوله خپله کښتۍ د سورت بندر ته راورسوله او په دغه ځاي کې یې د جهانګیر پاچا څخه د میشت کیدو او لنګر اچولو اجازه وغوښتنه ولې جهانګیر پاچا چې د پرتګالیانو تر اغیزې لاندې وو، برتانوي بحري ډلګۍ ته د پاتې کیدو او لنګر اچولو اجازه ورنه کړه. په پایله کې د انګریزي او پرتګالي ځواکونو تر منځ په ۱۶۱۲ ع کال کې سخته جګړه ونښته او پرتګالیانو کلکه ماتې وخوړه. له دې کبله انګریزانو د سورت په بندر کې د جهانګیز پاچا څخه د کارخانو د جوړولو اجازه تر لاسه کړه.همدارنګه انګریزانو د هند په نورو بندرونوکې لکه مدراس، بمبیی، ګوبندپور او کلکته کې خپلې اډې او مرکزونه جوړ کړل او په دې توګه یې خپلو استعماري فعالیتونو او ځورونو ته نوره پراختیا ورکړه.

د ۱۷ مې میلادي پیړۍ په پاي کې انګریزانو د سورت د بندر پر ځاي بمبئي خپله مهمه اډه او د سوق الجیش له پاره خپله قرارګا Headquarter وټاکله.

د شرقي هند کمپنۍ خپل فعالیتونه د سوداګریزو موخو د دایرې څخه وایستل او په ټول هند او د هند په سمندر کې یې په نوي استعماري او استثماري بنه هلې ځلې پیل کړې. په دې وخت کې د هند خلک د کورنې بحران او جګړو سره مخامخ وه، د مرهټیانو او مغلو تر منځ کړکیچونه او جګړې وې، انګریزي ښکیلاکګرو د وضعې نه په ګټه پورته کوونې د خپلو سوداګریزو، اقتصادي او سیاسي موخو د پراختیا په منظور د یو منظم پوځ Regular Army د جوړیدو اړتیا احساس کړه او بې له ځنډه یې د چاونیو ، قرارګاوو او ګارنیزیونونو Garrison په جوړولو لاس پورې کړ. هغوي په منظمه توګه د Taxation یا مالیې راټولولو ته ادامه ورکړه.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ددي ټکي يادول غواړم چې فرانسويانو هم د ۱۴ مې لويۍ په وخت ياني د ۱۶۶۴ تر ۱۶۶۸ م کلونو په منځ کې د بنګال د ګورنر شايسته خان په اجازه په سورت بندر او بيا په ۱۶۹۰ ع کال په چندناګور کې د East India Co ايست انديا کمپنۍ او فابريکې جوړې کړې وې. فرانسويانو له دې وروسته ماريشس ونيو او په ۱۷۴۲ ع کال کې يې د هند د نيولو اراده په سر کې پيدا شوه. هغوي د هند جنوبي سيمې دکن حيدر اباد ته نږدې شول، مګر د برتانوي ځواکونو سره په جګړه واوښتل چې د هغو د لاسه يې ماتې وخوړه او فرانسويان د دکن حيدر اباد څخه په شا وتمبيدل. له دې کبله د ۱۸ مې عيسوي پيړۍ په پايې کې انګريزی زوړ ښکيلاک يوازينی اروپايي ځواک وو چې د هند په نيمه وچه او هندي سمندر کې يې خپلې اډې ، قرارګاوې او سوق الجيشي مرکزونه ټينګ کړل.

بنګال چې په ۱۷۲۷ ع کال کې له مرکزي واکمنۍ څخه ازاد او د نوابانو په لاس پريوتی وو انګريزانو ته يې د تجارت کولو اسانتياوې ورکړې. په دغه وخت کې يو ځل بيا د وروستني نواب سراج الدوله (چې ازاد شوی وو) او د علي وردي خان د کورنۍ د نورو غړو تر منځ د تخت او تاج پر سر جګړه ونښتله ، انګريزانو له دغه وخت څخه په ګټه پورته کولو په ۱۷۵۷ ع کال هغوي ته د پلاسي په ميدان کې ماتې ورکړه او بنګال يې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوست.

د برتانوي راج او استعمار اوږدمهاله ستراتيژي دا وه چې خپله سياسي، اقتصادي او تجارتي ولکه په ټول هند او وروسته له هغې د منځنۍ اسيا په لور پلنه کړي. اما د هند په نيمه وچه کې د هغوي د استعماري او پراختيا غوښتونکو غرضونو په وړاندې د خلکو د مختلفو ډلو له خوا مبارزه روانه وه. د هغې جملې څخه يو هم د شاولي الله دهلوي غورځنګ يادولی شو چې نوموړي د احمد شا بابا څخه د مرستې غوښتونکی شو او احمد شا بابا د خپلو لښکرو سره يو ځاي د هغه مرستې ته ورغئ او د پانيپت په مشهوره جګړه کې يې ستري برياوي تر لاسه کړې.

همدارنګه د پنداريانو ازادی بخښونکئ غورځنګ چې د اميرخان افغان تر مشرۍ لاندې د ۱۸۱۳ څخه تر ۱۸۲۳ ع پورې رامنځته شو يادولی شو. هغه د روهيله پښتنو څخه وو او د انګريزانو په وړاندې يې ګوريلايي جګړې پر مخ بيولې. په پايې کې دا غورځنګ د برتانوي پوځ له خوا چې شمير يې ۱۲۰۰۰۰ تنو ته رسيدو وځپل شو.

د پنداريانو د تحريک له ماتې وروسته د داکويت ډله را څرګنده شوه. د داکويت ډلې به د هند شهزادګان، جاګيرداران او غټ غټ تاجران تښتول او يا به يې وژل. د دوي له نظره ياد شوي کسان د انګريزانو د ښکيلاک او شومو پلانونو ملاتړي تصور کيدل. داکويت به د جاګيردارانو سرمايې چورولې او عمارتونو، قصرونو او ماڼيو ته به يې اور اچولو.

په دغه لړ کې د ټګ ( ټګان ) په نامه دهقاني ډلې هم بهرني اتباع نيول، ځنګلونو ته به يې تښتول او سرونه به يې ورڅخه پرې کول. انګريزي واکمنو په باالمثله عمل کې د دوي ۱۵۰۰۰ تنه کشف او ونيول او وروسته يې اعدام کړل. د يادولو وړ ده چې د ۱۹ مې پيړۍ په پيل کې د ښکيلاک ګرو ځواکونو پرضد مبارزه کې د افغانانو او مرهټيانو تر منځ د ګډ زيار روحيه موجوده وه. په پاي کې ياد شوي استعماري ضد غورځنګونه د انګريزانو د يو سلو شل زره کسيزي اردو له خوا په بيرحمانه توګه وځپل شول.

د برتانوي ښکيلاک ضد مبارزو په لړ کې يوه بله څيره سيد احمد بريلوي وو. هغه د ۱۷۸۶ څخه تر۱۸۸۱ ع کال د «راي بريلي» د Udha په سيمه کې په يوه نوم ورکي کورنۍ کې نړۍ ته سترګې وغړولې. بريلوي په ۱۸۰۴ م کې د هند مرکز دهلي ته راغی او هلته د شاولي الله د کورنۍ له خوا هغه ته ښه راغلاست ويل شو او د شا عبدالقادر څخه يې په درس ويلو پيل وکړ. سيد احمد بريلوي په ۱۸۱۰ م کال کې د انګريزانو پر ضد د ګوريلايي جګړو د زده کړي له پاره د پنداريانو په غورځنګ کې د دغه غورځنګ د مشر اميرخان پټان سره يو ځاي شو او د په لاره اچول شوي تحريک څخه يې ډير څه زده کړل او زياته تجربه يې تر لاسه کړه. نوموړي په دهلي کې يو ډول مذهبي اصلاحات پيل کړ او ورسره يې توري او جهاد ته لاس واچاوه.

سيد احمد بريلوي د شا عبدالقادر او شا عبدالعزيز د کورنۍ د ځينو غړو په ملتيا د مذهبي ماموريت د پراختيا په منظور د اتراپراديش، بيهار او بنګال ښارونو ته سفرونه وکړل او وروسته کلکتي ته راغی او د حج کولو نيت ورسره پيدا شو.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

د مذهبي اصلاحاتو په ترڅ کې د سيد احمد بريلوي ډلي تبليغ کاوه چې: د هندوانو د سپيڅلو ځايونو زيارت کول ، د هندوانو په ديني مراسمو کې ګډون کول، له برهمنيانو سره مشوره کول ، د طالع کتونکو وړاندوينه، زيارتونو ته تګ، په قبرونو او زيارتونو د شمعې روښانول او داسې نور ټول مردود او د تقبيح وړ دي. دوي په مسلمانانو کې د وهابيت د تحريک د احيا او رغوني له پاره کار کاوه.

د ځينو مالوماتو له مخې سيد احمد بريلوي د خيبر پښتونخوا د بالا کوټ په ښارګوټي کې چې د ايبټ اباد څخه لږ تر لږه ۳۰ کيلو متره واټن کې پروت دی ووژل شو. له دې پيښي يوه نيمه پيړۍ وروسته يو بل وهابي ياني اسامه بن لادن د پښتونخوا په همدې سيمه ايبټ اباد کې د پاکستان د پوځي اکاډمۍ (کاکول) د ګارنيزيون په محوطه کې د امريکايي سمندري ځواکونو له خوا، چې د Blackhawk چورلکو په وسيله بدرګه کيدل او د جلال اباد څخه يې الوتنه کړي وه، ووژل شو. دلته بايد ياده کړو چې د سيد احمد بريلوي د جهاد د تحريک په هکله کتابونه خپاره شوي. له هغې جملې څخه د هند د بهرنيو او دفاع د چارو پخوانی وزير ښاغلي جسونت سنګهه چې د کانګريس او بهارتيه جنه تا BJP ګوندونو سره پاتې شوی په « جناح: اتحاد سی تقسيم تک » ياني (د جناح له اتحاد څخه د نيمي وچې تر ويش پورې) نومي کتاب کې هم په زړه پورې مالومات ليکلي دي. د سيد احمد بريلوي د زيږيدني او تحريک په اړوند متضاد مالومات تر لاسه کيدلاي شي. د بيلګې په توګه ښاغلي جسونت سنګهه په خپل کتاب کې د سيد احمد بريلوي په هکله په ۱۴م مخ کې داسې ليکي: ژباړه «د سيد احمد خان پلار په ۱۸۳۸ م کال کې وفات شو ، هغه د مغلو د واکمنی په مهال د ډهلي په لال قلعه کې يو مامور وو. سيد احمد د لال قلعي څخه رخصت واخست او په بهادر کمپنی او ايست انډين کمپنی کې يې خدمت کولو ته ترجيح ورکړه» .....

همدارنګه د افغانستان نامتو ليکوال او تاريخ پوه اروا ښاد پوهاند حبيب الله تږي د «ازاد افغانستان» په مجله دويم کال لمړۍ ګڼه ( د ۱۳۷۸ هجري لمريز کال د وري ـ غبرګولي يا د ۱۹۹۹ م کال اپريل ـ جون ) ۸۶ م مخ کې د هنري والتر بيلو H.W Bellew چې يو مشهور انګريزي ليکوال او تاريخ پيژندونکی دی، د افغانستان ـ پښتنو او پښتو په هکله يې زيات شمير کتابونه ليکلي، د يوسفزو د کتاب په حواله داسې ليکي:

«سيد احمد بريلوي او د هغه د جهاد تحريک»

« .... وروسته له دې او د هغه د پاتې هندوستانيو حواريونو شپه د اباسين غربي خوا ته نه تيريده له دې امله هغوي ټول د اباسين شرقي خوا ته واوښتل او د هزاره ضلعې په بالاکوټ کې ديره شول. هنري بيلو ليکي، د بالاکوټ خلکو د سيد او د هغه د پلويانو سره خوا خوږي وښودله خو په دې نه پوهيدل چې څنګه يې يوه بلا ځانته بوته کړه. سيد په بالا کوټ کې جنګي کلا تر لاسه کړه او د نورو حواريونو د راټولولو له پاره يې په کلکه زيار پيل کړ. د سيد دغه حواريون اکثرا هندوستانيان وه، سيد دلته لا پوره ټيکه نه وه کړي چې په ۱۸۳۱م کال کې د شيرسينګ په مشرۍ د سيکانو پوځ په هغه يرغل وکړ او د بالا کوټ کلا يې ونيوه. سيد او شا اسماعيل يې د هغو د ۱۳۰۰ تنو پلويانو په ګډون ځاي پر ځاي ووژل » ....

ادامه لري


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ